عبدالباري جهاني ۲۰۱۸/۰۸/۱۸

# د استقلال ورځ

نهه نيوي کاله مخکې، افغانستان، د اعليحضرت امان الله خان په مشرتوب، د نړۍ له ترټولو ستر استعماري طاقت برتانيي څخه بشپړه آزادي تر لاسه کړه. په کار خو دا وه چې دا ورځ په افغانستان کې په جم او جوش لمانځل سوې وای؛ خو له یوې خوا د افغانستان غمجن او کړکېچن حالات، او بې امنيتي، چې هره ورځ يې له جنازو او نويو غميزو سره ملګرې وي، د دې مبارکې ورځې د لمانځلو اجازه نه ورکوي او له بلې خوا موږ ټول د سر په سترګو ګورو چې که له افغانستان څخه، يوه پېړۍ مخکې، يوه هيواد د استقلال حق سلب کړی وو نن هغه حق ډېرو زياتو قدرتونو او ګاونډيانو ورڅخه لاندې کړی او يا لړ ترلړه په ټولو خارجي او داخلي چارو کې يې مستقيمي او غيرمستقيمي لاس وهني کوي.

په دې کې هيڅ شک نسته چې د افغانستان له استقلال او په دې هيواد کې له عصري اصلاحاتو سره د اعليحضرت امان الله خان نوم تړلی دی؛ او هغه د خپل قدرت په ټوله لس کلنه دوره کې وښودله چې د هيواد له استقلال او، د اولسونو د ژوند د بهترولو په منظور، له عصري اصلاحاتو سره لېونی مينه لري؛ چې د هيواد د استقلال او نېکمرغی دښمنانو د خپلو هيلو پوره کېدلو ته پرې نه ښود. خو په دې برخه کې بايد يوه خبره له پامه ونه غورځوو چې د افغانستان له استقلال سره د هغه پلار امير حبيب الله خان هم مينه درلوده او که ژوندی پاته سوی وای نو نن ورځ به د افغانستان له استقلال او حتی عصري اصلاحاتو سره د امير حبيب الله خان نوم يادېدلای.

امير حبيب الله خان، د انګرېزانو د ټولو اعتراضونو سره سره، د لومړي نړۍ وال جنګ په لومړيو کلونو کې، د ترکيې او جرمني ګډ هيات ته په کابل کې د اوسېدلو اجازه ورکړه او د هغه د پاچهی په دوران کې د هند آزادي غوښتونکو راجا مهيندراپراتاب سينګه، مولوی عبيدالله سيندهي، مولوي برکت الله او نورو په کابل کې د هند لپاره د مؤقتي حکومت اساس کېښېښود. کله چې په ۱۹۱۷ کال کې انګرېزانو د محسودو د پاخون د ځپلو فيصله وکړه نو حبيب الله خان د برتانوي هند حکومت ته يو ليک واستاوه او په هغه کې يې ورته وليکل چې که برتانيه په هغه سيمه کې نرم سلوک غوره نه کړي او سختو اقدماتو ته لاس واچوي نو په سرحد کې به عمومي ناکراري جوړه سي او دا ښايي د دواړو هيوادونو تر منځ د جنګ د پيل کېدلو سبب سي. آدمک ص ۹۹

آدمک ليکي چې د ۱۹۱۸ کال د ډسمبر پر دوه ويشتمه په کابل کې د برتانيي استازي ريوټ ورکړ چې امير او د هغه د شورا غړي جدي هيله لري چې افغانستان د سولې په کنفرانس کې برخه واخلي او دوی له دې امله ناراض دي چې برتانيه ولې دغه امتياز نه ورکوي. امير غوښتل چې برتانيه د هغه هيواد خپلواکی په رسميت وپېژني او په دې کې به د نړۍ له نورو هيوادونو سره د افغانستان د اړيکو درلودلو آزادي هم شامله وي. مګر لندن دی امتياز ورکولو ته حاضر نه وو... د برتانوي هند ويسرا لارډ چيلمسفورډ فکر کاوه چې اوس لا د دې وخت نه دی راغلی او په دې برخه کې به پخپله د امير غوښتني ته انتظار وباسي. مګر ويسرا ته دا ځرګنده وه چې امير به له برتانيي څخه د بشپړې سياسي آزادی، د خاورې په برخه کې امتياز، پيسي او په اينګلېنډ کې د استازي درلودلو غوښتنه کوي. هغه کتاب ص ص ۱۰۴-۱۰۵

امريکايي مورخ چارلس ميلر ليکي«... مګرده (اميرحبيب الله) غوښتل چې خپل هدف ته د سوله ايزو او قانوني لارو ورسېږي. او په حقيقت کې، ده فکر کاوه چې که افغانستان په جنګ کې برخه نه ده اخيستې، نو ډېر مهم رول يې لوبولی دی. ده ويل دا زما برکت دی چې د هند پوځيانو وکړای سوای چې د هند له خاورې څخه بهر په فرانسه، يورپ او مصر کې وجنګېږي. او دی پوهېدی چې، د جنګ په دوران کې، له متحدينو سره پر دونه حياتي همکاري به يې څوک سترګي پټي نه کړي او بې عوضه به پاته نه سي... مګر کله چې د ۱۹۱۸ کال په پای کې حبيب الله ويسرا لارډ چيلمسفورډ ته وليکل چې افغانستان ته بايد د ورسای د سولې په کنفرانس کې د برخې اخيستلو اجازه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ورکړه سي نو د ده د انتظار په خلاف، د ده ملګرو چنداني د ده د ملګرتوب او وفاداری قدر ونه کړ. چيلمسفورډ وليکل چي د امير غوښتنه ځتي او بيځايه ده. البته امير ته يې په دونه صراحت ونه وليکل مګر د برتانيي د مغشوشو ډيپلوماټيکو کلماتو ځخه دا ځرګنديدله چي د برتانيي حکومت هم دغه نظر لري. حبيب الله وروسته جدي لهجه غوره کړه. هغه د ۱۹۱۹ کال د فبروري د مياشتي په سر کي چيلمسفورډ ته وليکل چي بايد د يوې ليکلي موافقتنامي په وسيله د افغانستان د حکومت تامه آزادي، د عمل آزادي او دايمي خپلواکی په رسميت وپيژني. ده وروسته وليکل چي که برتانيه دا کار ونه کړي نو دی به په خپل سر د ورسای د سولي کنفرانس ته خپل، نابللی، هيات واستوي او هيات به يې د نړۍ والو په مخ کي د برتانيي د حق تلفی او حق ناشناسی په باب وينا وکړي. او انشاءالله چي هلته به د سولي د کنفرانس له برخه والو ځخه، د خپلي غوښتني سره سم، يوه ليکلي موافقتنامه ترلاسه کړي.

په داسي حال کي چي د برتانيي حکومت د امير د دي غوښتني په باب غور کاوه، حبيب الله جلال آباد ته نيژدي ، د يو ځو ورځو استراحت او ښکار په نيت وخوځيدی. هلته د فبروري پر نولسمه په خپله خيمه کي ويده وو چي يو ځوک يي خيمي ته ور ننووت او امير يې وواژه، او قاتل هيځکله پيدا نه سو» ميلر ص ۳۱۳
له دې وروستي متن او په سل هاوو نورو متونو او اسنادو ځخه سړی نتيجه اخيستلای سي چي د امير حبيب الله خان په قتلولو کي، برتانيي مستقيم لاس درلود او په دې دسيسه کي د دربار ډير لوی مقامات ورسره ملګري ول. د لښکرو او محافظينو په منځ کي، د پاچا خيمي ته ننوتل، هغه وژل او ورکيدل بل په هيڅ توګه امکان نه لري. امير حبيب الله خان د افغانستان د بشپړي خپلواکی ارمان ګور ته يووړ او د هغه باتور زوی اعليحضرت امان الله خان د هغه ارمان پوره کړ. حبيب الله خان د افغانستان له خپلواکی او عصري کولو سره د بل هر آزادي غوښتونکي او اصلاحات غوښتونکي افغان په ځير مينه درلوده. د حبيبي د لېسي جوړول او د هندي استادانو را بلل او هيواد ته د محمودطرزي په ځير منورينو رابلل او سراج الاخبار چاپول له عصري ښوونې او روزني او مطبوعاتو سره د هغه د ميني او علاقي ښکارندوی دي.

امريکايي سر انجنير اې سي جيويټ، چي د امير حبيب الله خان په زمانه کي يې له ۱۹۱۱ ځخه تر ۱۹۱۸ پوري په افغانستان کي پر مختلفو پروژو باندي کار وکړ، په افغانستان کي د خپلو تجربو او د امير حبيب الله خان د پاچهی په باره کي د خپل کتاب په پای کي ليکي:

«اعليحضرت حبيب الله خان دومره مؤدب، منصف او لايق افغان وو چي ما د هغه په ځير بل نه دی ليدلی. هغه ډير قوي شخصيت درلود، ډيره زياته پوهه او ډيره ښه حافظه يې درلوده. هغه د خپلي آرزو سره سم حکومت ونه کړ بلکه د توان او قدرت سره سم يې حکومت وکړ؛ ځکه چي پرله پسي دسيسي او توطيي ورته جوړيدلي. که يې يو ځو تنه ښه سلاکاران او يو ځو تنه غښتلي وفادار سري درلودلای نو هغه به ډير ځه کړي وای. په افغانستان کي اوسيدونکي اروپائيان او افغانان ، چي د ده اشتباهاتو ته ګوته نيسي او دی محکوموي نو دا خبره به ټول مني چي هغه په ډيرو سختو شرايطو کي حکومت کاوه، او هغه د هيواد تر ټولو بهتر واکمن وو. ميلر ص ص ۳۲۷-۳۲۸

## ماءخذونه

1: Adamec, Ludwig W. Afghanistan 1900-1923 A Diplomatic History. University of California Press 1969
2: Miller, Charles. Khyber, British India’s North West Frontier. U.S.A 1977
3: Jewett, A.C. An American Engineer in Afghanistan. U.S.A 1948


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ